# German Cooperation with Afghanistan
# +++ Press Release +++

## د استخراج په سکتور کې ښې حکومتولۍ ته وده ورکول – د معلوماتو تبادله او همکاري

**کابل، د ۱۳۹۸ کال د غویي د میاشتې ۱۵مه نیټه** – پرون د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت نوښت او د افغان-المان د همکارۍ ادارې په کابل کې د دولتي ادارو، خصوصي سکتور او مدني ټولنې د ۵۰ تنو استازو په ګډون یو ورکشاپ جوړ کړ. د دې ورکشاپ د جوړولو موخه داوه چې د استخراج په سکتور کې د اړونده مراجعو تر منځ مناسبه همکاري او د معلوماتو تبادله بیرته را منځته کړي. دا راز هڅې به په افغانستان کې د کان ایستنې په باب د ارقامو او معلوماتو د توحید سبب شي او د ۲۰۱۹ کال د جون په میاشت کې د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت (EITI) د سازمان له خوا په هیواد کې د دې سازمان د سټنډرډ د پلې کېدو د څېړنې یو شرط به برابر کړي.

د افغانستان د کانونو او پټرولیم د وزارت سرپرستې میرمن نرگس نهان په نوموړي ورکشاپ کې د خپلې وینا په ترځ کې داسې وویل: «زمونږ وزارت غواړي چې په دې برخه نور هم کار وکړي. مونږ په هیواد کې د EITI د سټنډرډ د پلې کېدو د بریالي څېړنې او تائید لپاره د روڼتوب یوه انټرنټي پاڼه جوړه کړیده چې په هغه د استخراج او عوایدو ارقام او معلومات په ژوندۍ توګه خپرېږي ترڅو دغه معلومات د شریکانو سره شریک شي او په نوموړې لړۍ کې وکارول شي.»

د افغانستان د کان ایستنې سکتور یو لوی اقتصادي پوتنسیال لري چې کولای شي اقتصادي ودې ته د پام وړ زیاتوالی ورکړي. د EITI سټنډرډ د استخراج په سکتور کې د روڼتوب او حکومتولۍ نړیوال نورمونه ګڼل کېږي. دغه سټنډرډ د نفت، ګاز او منرالونو د سرچینو د کنټرول او مدیریت معیارونه ټاکي چې د حکومتونو له خوا د شرکتونو او مدنې ټولنې په همکارۍ پلې کېږي. هغه هیوادونه چې دا معیارونه پلې کوي، د مالیاتو، جوازونو، تړونونو، تولیداتو او د طبیعي سرچینو د استخراج د نورو مهمو عناصرو په اړه اطلاعات برابروي. افغانستان د ۲۰۱۰ کال راهیسې د نوموړي سازمان له خوا د دغه سټنډرډ د پلي کېدو د څېړنې او تائید یو کاندید دئ.

د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت دارالانشا په ډاګه کړه چې د اړونده لوریو په منځ کې د همکارۍ او د معلوماتو د شریکولو کموالی او همدارنګه د نوموړو معیارونو څخه د عمومي پوهاوي نشتوالی په افغانستان کې د دې سازمان د نورمونو د پلې کېدو د تائید د پروسې خنډونه دي. د سکتوري وزارتونو یو شمېر واحدونه او همداراز استخراجي شرکتونه د نوموړو شمیرو او معلوماتو د راټولولو دنده په غاړه لري. د دې ورکشاپ موخه د نوموړو مراجعو تر منځ د اغیزمنو اړیکو او د پوهې شریکولو ته رسیدل وو. د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت دارالانشا مشر ښاغلي حشمت الله سایس څرګنده کړه چې «د EITI د نورمونو په باب پوهاوي اړینه ده. مونږ یوازې هله کولای شو د بریالو پایلو هیله ولرو چې په ګډه سره خپل رول په ښه توګه ترسره کړو.»

د ورکشاپ ګډونوال په هیواد کې د نوموړي سازمان له خوا د EITI سټنډرډ د تائید د پروسې د شرایطو او د اړونده ننګونو د رفع کولو د څرنګوالي سره آشنا شول. هغوی اوس کولای شي اړونده معلومات د افغانستان د استخراجي صنایعو د شفافیت د نوښت دارالانشا ته برابر کړي. دا ورکشاپ د اړونده مراجعو یوه شبکه منځته راوړه چې پخوا به یې په یوازې توګه فعالیت کاوه. دغه مراجع همدارنګه په نوموړې پروسه کې د خپل رول په اړه یو بل مسئول ګڼي.

د نوموړي سازمان له خوا په افغانستان د سټنډرډ د پلې کېدو رسمي تائیدول به د هیواد د استخراج په سکتور کې یوه لویه سمونتیا وي چې عواید به په بشپړ دقت او حساب ورکونې سره راټولیږي او دا کار به د افغانستان د پراختیا سره مرسته وکړي. د معلوماتو شفافیت او روڼتوب به د اداري فساد د مهارکولو، د یوه باوري او عادلې ادارې په توګه د حکومت د دریځ د ټینګولو او د نړیوالو پانګه والو د جلبولو سبب وګرځي.

# German Cooperation with Afghanistan
## +++ Press Release +++

د افغانستان په استخراجي سکتور کې د ښې حکومتولۍ د ودې پروګرام (MinGov) د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH د اداري له خوا د المان د اقتصادي همکاريو او پراختيا د وزارت (BMZ) په استازيتوب پلی کيږي. د دې لپاره چې په افغانستان کې د کان ايستنې د سکتور پوټنسيال په بشپړه توګه وکارول شي، نوموړی پروګرام په پام کې لري چې په استخراجي سکتور کې دولتي عوايد زيات کړي، پانګونه وهڅوي او د افغانستان د اداري فساد سره مبارزه وکړي. دا پروژه اړونده مراجعو ته روزنه ورکوي تر څو تامين کړي چې د کان ايستنې کارونه په شفافه توګه او د هيواد د نافذه قوانينو او د روغتيا او ژوند چاپيريال د نړيوالو معيارونو سره سم ترسره کيږي. د نورو کارونو تر څنګ، دې پروژې د ۲۰۱۴ کال راهيسې د بيلابيلو موضوعګانو لکه د کانونو د پلان جوړونې، د کان ايستنې د اقتصاد او د کان ايستنې د څارنې د مديريت په باب ۲۶ روزنيز کورسونه د کانونو د ۳۸۰ تنو څارونکو او د کانونو او پټروليم د وزارت او د هغه د ولايتي ادارو د نورو کارکوونکو لپاره جوړکړي دي. په عين حال کې، نوموړي پروګرام په دې سکتور کې د ونډې اخيستنې د ودې په موخه د افغانو ښځو لپاره ۱۳ سکالرشيپونه تمويل کړي دي. برسيره پر دې، دا پروژه د افغانستان د استخراجي صنايعو د روڼتوب د نوښت (AEITI) څخه د روڼتوب د ودې او اداري فساد سره د مبارزې په موخه ملاتړ کوي.


Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de